شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۵/۰۸/۰۵

# افغان ولس په خپل هیواد کې سوله او امنیت غواړي



په اوسني حالاتو کې د هیواد د خلکو هیلي او غوښتني ډیرې دي چې هر وګړی ورته اړتیا لري. که چیرې له هر هیوادوال څخه وپوښتئ چې څه غواړئ؟ هغه به ډیر ژر ووایي چې سوله، امن او د وطن آبادول او پرمختګ غواړو، دا خبره د هر هیوادوال د زړه خبره ده.
د همدې موخې لپاره په ټول افغانستان کې هڅه روانه ده تر څو د هیواد شته ستونزې او نا امنی دسولې له لارې د حل لارې ورته پیداکړي او دغو موجوده؛ بدبختیو ته د پای ټکی کیښودل شي.
افغان ولس چې په هیواد کې کومې ناخوالې ویني، هغه ورځې ورپادیږي، چې تل یي په جنګونو، ناامنیو او ډول ډول کړاونو کې تیرې کړې وې. دوی نه غواړي، چې بیا خدای مه کړه، هغه ورځې په هیواد کې تکرار شي، چې زمونږ وطن یي په کنډوالو او ویجاړیو بدل کړ.
اوس افغانان سولې او د هیواد د پرمختګ له پاره هڅې کوي او وایي چې خبرو له لارې سوله او امن راتلای شي او هیواد د پرمختګ لورې ته ځي.
کله چې په هیواد کې څوارلس کاله مخکې یو نوې نظام منځته راغی او مونږ افغانان د دغه نظام د ډیرو پرمختګونو شاهدانو یو. په دې څوارلسو کلونو کې د هیواد خلکو دغه پرمختګ د ډیرو سترو هلوځلو د ترسره کولو په پایله کې ترلاسه کړی دی اونه غواړي چې د دغه پرمختګ مخه بیا ونیول شي.
زمونږ اولس سوله غواړي خوخپل پرمختللي ارزښتونه او پرمختګونه نشي قرباني کولای، زمونږ خلک امنیت غواړي خو امنیت باید د رښتوني سولې په پایله کې رامنځته شي او د هیواد پرمختګ باید د اسلامي قوانینو او اساسي قانون په غیږ کې وده وکړي او د پردیو هرډول لاس وهني زمونږ په کورنیو چارو کې بندې شي او افغان ولس باید د خپل هیواد لپاره په رښتوني توګه د سولې بهیر په بریالي توګه پر مخ بوزي.
نو همدا دټولو هیوادوالو یوازینی هیله ده؛ چې په هیواد کې ډاډمنه سوله، امن او پرمختګ وي. کله چې په هیواد کې سوله تأمین شي، امنیت اوهم پرمختګ به خپل حال پوره وده کوي او د هیواد ټولې چارې چې د ولسونو د پرمختګ موخې دي ،په ښه توګه پرمخ ځي او د خلکو د خوښیو او خوشحالیو لامل او سبب ګرځي.
دغه واقعاً د افغان ولس هیله ده نوله دې کبله د افغانستان نوي منتخب دولت د خپلې کړنلارې له مخې سوله؛ یولومړیتوب بولي، ترڅو خپل مخالفین کینوي او دهیواد شته ستونزې دخبروله لارې حل او فصل کړي او ددې ستونزو د حل په وسیله د جنګ او ویجاړیو مخه نیول کیږي.
د سولې راوستلو لپاره هرافغان وګړي دا وجیبه لري، چې سوله، امن او پرمختګ هیواد ته یوازې او یوازې د خبروله لارې راتلای شي نه د جنګ او جګړو له لارې .
افغانان باید د خپل وطن د پرمختګ لپاره ملاوتړي، چې افغانستان د تل لپاره په نړی کې یو باثباته هیواد په توګه نړیوالوته ورووپیژندل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ